# د امریکا او طالبانو ترمنځ لاسلیک شوې هوکړه؛ هیلې او خنډونه




د روان کال فروری میاشتې په 29 نېټه د امریکا متحده آیالاتو او طالبانو ترمنځ په دوحه کې خپل منځي هوکړه د یو لړ پیچلو او سختو خبرو اترو په پایله کې په دې هیله لاسلیک شوه، ترڅو په افغانستان کې د امریکا شل کلنې جګړې او روانو ناخوالو ته د پای ټکی کېښودل شي. که څه هم یاده هوکړه د زیات شمېر هېوادونو استازو په وړاندې لاسلیک شوه، مګر بیا هم لیدل کېږي چې د افغانستان دننه د ځینو سیاسي مشرانو له نیوکو سره مخ ده کوم چې د هوکړې پر وړاندې خنډ ګڼل کېدای شي. دا چې د دې هوکړې پلي کېدل به په ټاکل شوې موده کې ترسره شي او که نه؟ د هوکړې پر وړاندې نور کوم خنډونه شتون لري او دواړه خواوې یې پلي کېدو ته تر اوسه او په راتلونکې کې څومره ژمن ښکاري په دې تحلیل کې پرې شننه کوو.

## افغانستان ته د سولې راوستل

د امریکا متحده ایالاتو او طالبانو ترمنځ د سولې هوکړه چې څلورو برخې لري د هغو خبرو اترو په پایله کې لاسلیک شوه چې شاوخوا ۱۸ میاشتې وخت یې ونیوه. د دواړو لوریو ترمنځ خبرو اترو یو لړ لوړې ژورې هم درلودې تر دې چې په ځینو پړاوونو کې دا خبرې د حملو د زیاتوالي له امله د ځنډ ښکار هم شوې. سیمه ییزو مرستندویانو او د افغانستان ګاونډیانو په هغه ورځ چې دا هوکړه لاسلیک کېده په اړه یې پراخه مګر د هرکلي غبرګونونه درلودل. د یادې هوکړې لاسلیک کېدا چې د قطر هېواد دوحه کې ترسره کېده د امریکا متحده آیالاتو د بهرنیو چارو وزیر مایک پمپیو په ګډون د شاوخوا دېرشو هېوادونو استازو په یاده لاسلیک غونډه کې ګډون درلود. افغان ولس د دې هوکړې لاسلیک په ورځ پراخې خوښۍ لمانځلې تر دې چې په یو شمېر سیمو کې د خیراتونو او شیرنیو ویشلو په ترڅ کې د یادو مراسمو ترسره کېدو څخه هرکلی وشو او د سولېستره هیله چې د کلونو راهیسې یې هغوی په تمه او لټه کې دي د پوره کېدو هیله په بې سارې توګه څرګنده کړه.
په لاسلیک شوې هوکړه کې دواړو خواوو یو شمېر ژمنې ترسره کړې دي. د بېلګې په توګه د هوکړې د لومړۍ برخې په درېیمه حصه کې په ښکاره توګه یادونه شوې چې د مارچ په لسمه به بین الافغاني خبرې اترې پیل کېږي او په همدې ورځ به د باور جوړولو فضاء په پار 5000 طالب زندانیان د اړوندو اړخونو سره د هماهنګۍ او تائید وروسته خوشې

کېږي او طالبان به هم د افغان حکومت 1000 تنه بندیان خوشې کوي. په داسې حال کې چې د هوکړې لاسلیک وړاندې امریکايي چارواکو څرګنده کړې وه چې د سولې لاره اوږده او پیچلې ده. دې ته ورته څرګندونو څخه له وړاندې داسې انګېرل کېده چې د هوکړې لاسلیک کېدل به حتمي ډول سوله افغانستان ته را نه ولي خو دا د سولې په لار کې یو ستر ګام وو.
بلخوا د امریکا او طالبانو ترمنځ د هوکړې لاسلیک په ورځ پلازمینه کابل بیا د افغان دولت، امریکا او ناټو ترمنځ د ګډې اعلامیې خپرولو شاهد و. د ناټو مشر او د امریکا دفاع وزیر د اعلامیې خپرولو غونډه کې خبرداری ور کړ که طالبان د هوکړې ژمنو ته وفادار پاتې نه شي دوی به تړون لغوه کړي. او له دې پرته یې په امنیتي برخه کې د افغان ځواکونو سره د مرستې ترسره کېدو په اړه هم څرګندونې ترسره کړې چې په یو وخت کې دې دواړو غونډو د افغانانو هیلې د ناهیلی لور ته بوتلې. افغان حکومت که څه هم د هوکړې لاسلیک کېدلو څخه هرکلی وکړ، مګر د طالب زندانیانو خوشې کول یې نه یوازې سره کربښه وګڼله، بلکې دا یې داخلي پرېکړه ګڼله چې یوازې د افغان حکومت پورې اړه لري. طالب مشرانو بیا ټینګار درلود چې امریکا دې هوکړې ته ژمنه پاتې شي او د هغې له مخې دې د هغوی 5 زره زندانیان ور آزاد کړي، تر دې چې امریکايي چارواکو کابل ته سفرونه پیل کړل. د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد د هڅو په پایله کې ولسمشر محمد اشرف غني د لوړې مراسمو وروسته د طالب زندانیانو آزادولو په اړه یو پیچلی فرمان صادر کړ. د یاد فرمان له مخې د روانې میاشتې په 14 نېټه باید 100 تنه طالب زندانیان د پروان (بګرام) زندان څخه د بایومیټرک کېدو او د لیکلې ژمنې ورکولو وروسته چې بیا ځلې به د جګړې ډګر ته نه ستنیږي آزادیږي او په همدې ترتیب به هره ورځ 100 تنه طالب زندانیان عمر او روغتیایي وضعیت ته په کتو له نورو زندانونو څخه آزادیږي. د زندانیانو آزادېدو په بدله کې له دې پرته افغان حکومت د طالبانو څخه دا هم غوښتي چې د تاوتریخوالي کچه به راکموي او د افغان حکومت سره به مخامخ خبرې ترسره کوي، هغه څه چې د هوکړې لاسلیک وړاندې ورته طالب مشران ژمن نه ښکاریدل او نه ورته تیار دي.

## د زندانیانو موضوع او سوله

ټاکل شوې وه ترڅو بین الافغاني خبرې اترې د مارچ په لسمه نېټه ترسره شي، مګر د 5000 زره طالب زندانیانو نه خوشې کېدل د بین الافغاني خبرو اترو لړۍ نه پیل کېدو لامل شوه چې تر دې دمه یې څرک نه ترسترګو کېږي. خو د لوړې مراسمو وروسته کله چې ولسمشر محمد اشرف غني د طالب زندانیانو د مشروطې آزادۍ څرګندونې ترسره کړې، افغان سوله بیا د رسنیو د سرټکیو په کتار کې راغله، مګر د مارچ نهمې نېټې دوه ګوني د لوړې مراسمو چې د ډاکټر محمد اشرف غني او ډاکټر عبدالله عبدالله لخوا په جلا جلا توګه ترسره شول د سولې په اړه کورنۍ اجماع او هیله تته کړه، هغه څه چې د بین الافغاني خبرو اترو لپاره اړین ګڼل کېږي.
امریکا چې له یوې خوا طالب مشرانو سره یې هوکړه لاسلیک کړه، بلخوا د تېرو ټاکنو پایلو څخه یې نه یوازې هرکلی ترسره کړ، بلکې امریکايي لوړ پوړو چارواکو د ولسمشر محمد اشرف غني د لوړې په مراسمو کې ګډون هم ترسره کړ. او په دې سره یې د سولې او بندیانو خوشې کولو موضوع لاپسې پیچلې کړه، ځکه د حکومت سیاسي مخالفین تور لګوي چې د بین الافغاني خبرو اترو لپاره د حکومت پلاوي ټاکلو کې ورسره مشوره نه ده شوې او همدا ځای دی چې ډېری سیاسي مشران د سولې په اړه د حکومت په کړنو شک څرګندوي. په داسې حال کې چې افغان ولس د بې وزلۍ او جګړې څخه په لویه کچه تنګې ته راغلی، د افغان سیاسي مشرانو دغه خپل منځي بې باوري د هغوی هغه هیلې چې تل پاتې سولې ته یې لرلې بیا ځلې کمزوې کړې.

امریکا چې له یوې خوا یې طالب مشرانو سره په شوې هوکړه کې د طالب زندانیانو د خوشې کولو ژمنه کړې، بلخوا د افغان حکومت له لوري د طالب زندانیانو خوشې کولو په اړه پېچلې او نامعلوم پړاوونه چې وخت ته په کتو پکې بدلونونه هم مینځ ته راځي کولی شي افغانستان ته د سولې راتګ د لا ځنډ او خنډ ښکار کړي. تاکل شوې وه د مارچ په 14 مه نېټه یو شمېر طالب زندانیان له بند څخه آزاد کړل شي، مګر لیدل کېږي چې هغه هم د نامعلومو دلایلو له امله ځنډېدلی ښکاري او دا هغه څه دي چې طالبان به تاوتریخوالي زیاتولو ته وهڅوي او د تاوتریخوالي زیاتوالي سره به هغه بهرني او داخلي اړخونه چې په روان ناورین کې یې ګټې نغښتې دي، کوښښ وکړي چې د امریکا او طالبانو ترمنځ د بې باورۍ فضاء جوړولو لپاره لمن ووهي. په داسې حال کې چې امریکایي چارواکو وار د مخه ګواښ کړی که طالبان خپلو ژمنو ته پاتې نه شي نو لاسلیک شوې هوکړه به لغوه اعلان کړي، او روان حالت د یو همداسې څرګ ثابتولو ښکارندویي کولی شي.

## د سولې پر وړاندې شته خنډونه څنګه له منځه تللی شي؟

که امریکا او طالبان په رېښتیني توګه غواړي چې افغانان د یوې رېښتینې سولې شاهدان واوسي، دواړه خواوې باید نه یوازې لاسلیک شوې هوکړې ته ژمن پاتې شي، بلکې دواړه خواوې د هوکړې هغه موارد چې شکونه یې زېږولي او په اړه یې ډېر وضحات ته اړتیا لیدل کېږي د افغان ولس هغو سیاسي مشرانو ته په ډاګه کړي، چې په اړه یې وېرې او شکونه لري. د بېلګې په توګه د طالب زندانیانو خوشې کولو موضوع چې افغان حکومت یې په اړه وېره څرګندوي چې ګواکې بیا د جګړې ډګر ته ورستانه نه شي. د ټولو امریکایي ځواکونو وتلو موضوع، ځکه داسې څرګندونې هم ترسره کېږي چې امریکایي ځواکونه په افغانستان کې د خپلو فوځي اډو د پراخوالي چارې ترسره کوي چې د امریکایي ځواکونو وتلو موضوع سره په ښکاره ټکر کې لیدل کېږي.
بلخوا د شوې هوکړې له مخې چې کومې نېټې په ډاګه شوي چې په ټاکل شوې موده کې به بهرني ځواکونه له افغانستان څخه وځي د حقیقت څخه واټن غوره کوي. دا ځکه چې په هوکړه کې هغه لومړنۍ نېټې د بېلګې په توګه د مارچ په لسمه نېټه به بین الافغاني خبرې اترې پیل کېږي او د باور جوړولو لپاره د دواړو خواوو زندانیان آزادېږي، عملي نه شوې، هغه څه چې ښایي له افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو وتلو پړاوونو په پرتله ډېرې ستونزمنې نه وي د ځنډ او خنډ ښکار شوې، نو د ځواکونو وتلو پړاوونه ښایي هم په خپل وخت کې ترسره نه شي او دا چارې کولی شي د سولې لړۍ لاپسې وغځوي، او که چېرته ټول بهرني ځواکونه له افغانستان څخه ووځي، نو په افغانستان کې د تل پاتې سولې راتګ حتمي کولی شي.
اړینه ده ترڅو طالبان او افغان حکومت د زندانیانو آزادولو پلاوو په اړه داسې څرګندونې ترسره نه کړي، چې د باور فضاء خړه کړي، دواړه خواوې باید د باور فضاء رامنځ ته کولو لپاره د یو څه منلو او یو څه څخه تېرېدلو یوه داسې پالیسي غوره کړي، چې رېښتیني او واقعي ګټه یې افغان ولس ته ورسیږي.
په ورته وخت کې افغان سیاسي مشران باید د سیاسي سیالیو او تورونو لګولو څخه لاس واخلي، او د بین الافغاني خبرو اترو پلاوي ټاکلو کې چې د حکومت له لوري نهایي شوی هم دی، په اړه یې د ټولو سیاسي مشرانو ملاتړ خپل کړي ترڅو په پایله کې روانو ناخوالو ته د پای ټکي کېښودل شي او افغان ولس د یوې رېښتینې سولې شاهد واوسي.

# خبرتیا

د ستراتیژیکو او سیمه ییزو څېړونو مرکز په پام کې لري چې د راتلونکي کال حمل میاشتې 15 نېټې څخه وروسته اوونیز تحلیل په هرو دوو اوونیو کې یو ځل نشر ته وسپاري.

محترم لوستونکي دې خبر وي.

# پیامدهای اجرایی دو مراسم تحلیف



داکتر محمد اشرف غنی روز دوشنبه (۱۹ حوت ۱۳۹۸ هـ ش) مراسم تحلیف را در صحن ارگ ریاست جمهوری به جا آورد. در عین زمان در کاخ سپیدار که فاصله چندانی از ارگ ندارد؛ داکتر عبدالله عبدالله رقیب انتخاباتی و شریک سابق وی در حکومت وحدت ملی نیز مراسم تحلیف را به عنوان رئیس جمهور به جا آورد. در مراسم تحلیف محمد اشرف غنی شماری از دیپلومات های خارجی و نماینده گان سازمان های بین المللی؛ به شمول زلمی خلیلزاد نیز شرکت کرده بودند. در حالیکه در کنار عبدالله، عبدالله به جز اعضای تیم ثبات و همگرایی و هواخواهان آنها؛ کسی از خارج حضور نداشت.

نتیجه نهایی انتخابات ریاست جمهوری پس از پنج ماه تاخیر به تاریخ ۲۹ دلو سال جاری اعلام شد که بر اساس آن محمد اشرف غنی برنده انتخابات شناخته شد. در واکنش به این امر، داکتر عبدالله با استناد به آنچه که از سوی وی تقلب در انتخابات خوانده شد؛ نه تنها اینکه نتیجه انتخابات را نپذیرفت بل، خود را به عنوان برندهء حقیقی انتخابات و رئیس جمهور کشور اعلام نموده از تشکیل حکومت همه شمول صحبت نمود. وی در جریان کشمکش های پسا انتخاباتی سه والی را در ولایت های سرپل، جوزجان و بغلان معرفی کرد و والی پنجشیر نیز از داکتر عبدالله حمایتش را اعلام نمود.

این جار و جنجال ها در حالی مطرح شده است که قانون اساسی افغانستان راه رسیدن به کرسی ریاست جمهوری را انتخابات دانسته و صلاحیت برگزاری، شمارش و اعلام نتایج را برای کمیسیون مستقل انتخابات داده است. در این تحلیل تلاش می شود تا پیامدهای بزرگ دو مراسم تحلیف مورد بررسی قرار داده شود.[i] البته درین میان از نقش منفی امریکا نیز نمی توان انکار کرد. چنانچه حامد کرزی رئیس جمهور پشین افغانستان گفته است: «کردار تفرقه آمیز و تفرقه افگنانه امریکا در برابر مردم افغانستان سبب انجام دو مراسم تحلیف در کشور شد. در صورتی که امریکا در

حقیقت خواهان حل بحران بوجود آمده می‌بود، می‌توانست با اقدام سازنده و به موقع قبل از برگزاری مراسم تحلیف، مانع تفرقه و بی ثباتی شود.»ii

## تأثیر روی عواطف و احساسات مردم

مردم افغانستان در حال حاضر با چالش های جدی از جمله جنگ و ناامنی، فقر و بیکاری، اختطاف و دزدی و موارد دیگری دست و پنجه نرم می نماید. چهل و یک سال جنگ و ناامنی از مردم کشور قربانی گرفته و می گیرد. نصف باشنده گان سرزمین ما در فقر مطلق حیات به سر برده و از هر دو نفر واجد کار، یکی آن بیکار است. دزدی و اختطاف امنیت فزیکی و روانی مردم ما را به خطر مواجه کرده است. اگر موجودیت فساد گسترده بگزریم، اجرایی دو مراسم تحلیف در یک کشور و در عین زمان، سبب نگرانی مردم در کشور شده است. در حال حاضر اصلا مردم نمی دانند که آینده شان به کدام سو روان است. بر علاوه این، احساس عدم امنیت فزیکی و روانی سبب می شود که سرمایه های باقی مانده نیز به خارج انتقال داده شود، چون سرمایه گزاران اگر احساس کنند که سرمایه شان در خطر است بدون شک در صدد خروج سرمایه شان از افغانستان می برایند. مردم افغانستان وقتی می بینند سیاسیون شان به عوض دفع خطر روز افزون کرونا و روی دست گرفتن اقدامات سریع و قاطع برای جلوگیری از آن، مصروف چانه زنی سیاسی و کشمکش قدرت می باشند، واقعاً احساس محرومیت و خجالت می نمایند.

## تأثیر روی روند صلح

تحقق صلح از نیازهای اساسی در کشور به حساب می آید، چون بیش از چهل و یک سال می شود که در افغانستان جنگ جریان دارد. این جنگ سبب بربادی های زیادی در کشور شده و میلیون ها تن را به کام مرگ فرستاده است. بتاریخ ۱۰ حوت سال ۱۳۹۸ هـ ش موافقت نامه صلح میان امریکا و طالبان در دوحه قطر پس از هژده ماه مذاکرات میان طرفین به امضا رسید. بر مبنای موافقت نامه مذکور قرار بود که بتاریخ ۲۱ حوت امسال(۱۰ مارچ ۲۰۲۰ م)روند مذاکرات بین الافغانی آغاز شود که متاسفانه به دلیل عدم رهایی زندانیان سیاسی و عدم آماده گی دولت و سیاسیون افغانستان، مذاکرات به تاریخ معینه آغاز نگردید.

اجرای دو مراسم تحلیف بالای روند صلح اثرات منفی زیانباری می تواند داشته باشد که از آن جمله می توان به ایجاد پراگنده گی در روند مذاکرات بین الافغانی، فضاسازی برای دخالت های منفی و فرصت سوزی اشاره نمود. انتظار می رفت که مذاکرات بین الافغانی دو جهت داشته باشد یکی دولت افغانستان و سیاسیون زیر چتر آن و دیگری تحریک طالبان. اگر مشکل پیش آمده قبل آغاز مذاکرات حل نشود روند مذاکرات بین الافغانی چند دسته یی خواهد شد که این پراگنده گی و تعدد جهت ها سبب می شود که پیچیده گی مذاکرات بیشتر شود. علاوه بر این، در داخل و خارج کشور حلقاتی وجود دارند که صلح به نفع شان نبوده و می خواهند جنگ در افغانستان ادامه داشته باشد. دو پارچه گی در دولت مردان افغانستان می تواند زمینه دخالت آنها را به نفع جنگ و ضرر صلح بیشتر از پیش مساعد سازد. از چهل و یک سال بدینسو افغانستان هیچ وقت تا به این سرحد به صلح نزدیک نبوده است. از یک طرف تقریبا اجماع جهانی در مورد صلح وجود دارد و از جانب دیگر همه شمولیت داخلی. علاوه بر این، همه جهت ها مذاکرات را به عنوان وسیله

حل مشکلات موجوده کشور پذیرفته اند. حال اگر این فرصت توسط کشمکش های قدرت خواهی از دست برود، به یقین که افغانستان وارد یک جنگ داخلی دیگر خواهد شد که تا آینده نامعلوم این جنگ ادامه خواهد یافت.iii

## تأثیر روی امنیت و ثبات کشور

افغانستان یکی از ناامن ترین کشورهای جهان محسوب می شود. جنگ، فقر، موجودیت مافیاهای سیاسی و اقتصادی و کم کاری حکومت در روند تأمین امنیت مردم از عوامل اساسی ناامنی در کشور شمرده می شوند. با آنهم امنیت نسبی در شهرها و بسا از مناطق کشور وجود دارد. اعلام دو حکومت، سبب آشفته گی بیشترگردیده و بالای امنیت و ثبات افغانستان تأثیر فوق العاده منفی خواهد گذاشت.

اگر وضعیت موجود خدای نخواسته سبب دو دسته گی قوای مسلح افغانستان شود، در آنصورت کشور به سوی بحرانی عمیق تر پیش خواهد رفت که سلامتی افغانستان واحد را تهدید خواهد کرد. با آنکه اثری از دو دسته گی در میان قوای مسلح کشور تا اکنون دیده نمی شود با آنهم درین مورد توجه در کار است که خدای نخواسته تجارب ناکام مجاهدین در دههء هفتاد یک بار دیگر تکرار نشود.

## ضربهء محکم بر پیکر مردم سالاری

در نظام های مردم سالار راه رسیدن به قدرت سیاسی از کانال انتخابات می گزرد که سیاسیون افغانستان نیز این امر را به طور نظری پذیرفته اند، اما در عمل مشکلات زیادی وجود دارد. برخلاف دیگر کشورها انتخابات در افغانستان همیشه با جار و جنجال های زیادی همراه بوده است و اینک آخرینش سبب بوجود آمدن دو حکومت موازی در کشور گردیده است. واضح است که این امر بی باوری مردم را نسبت به پروسه انتخابات و روند مردم سالاری بیشتر ساخته و می سازد. هر چند باور مردم نسبت به پروسه انتخابات قبل از این نیز کم شده بود که نمونه بارز آن را می شود در میزان اشتراک مردم در انتخابات ریاست جمهوری اخیر مشاهده کرد. اما نتائج انتخابات را به این شیوه مسخره کردن، مردم را از اساس بر انتخابات بی باور ساخته و ضربهء محکمی بر مردم سالاری در کشور وارد خواهد ساخت.

## حیثیت و پرستیژ افغانستان

افغانستان کشوری است که در تاریخ پنج هزار ساله اش با وجود نشیب و فراز های فراوان؛ افتخارات زیادی هم با خود دارد. با وجود که در شرایط حاضر یک کشور فقیر و در حال جنگ است اما، صلابت و حیثیت او هنوز در بسیاری از جاها محفوظ است. افغانستان کشوری است که مردم آن به هیچ استعماری تن در نداده و توانسته است طی یک قرن، دو امپراتوری را به زانو در آورد. اجرای هم زمان دو مراسم تحلیف در یک زمان درامه های خنده آوری است که توسط سیاسیون ما اجراء گردید و متأسفانه حیثیت کشور را درجهان زیر سوال برد.

## نتیجه گیری

اجرای دو مراسم تحلیف در ارگ و سپیدار یک داغ سیاهی بود که در پیشانی افغانستان از سوی داعیان مردم سالاری زده شد. نه تنها اینکه به حیثیت کشور صدمه وارد کرد بل، عدم صداقت مردم سالاری خواهان را نیز به اثبات رسانید. اگر این دو دسته گی حل نشود تاثیر منفی بالای عواطف و احساسات مردم، امنیت کشور، روند صلح و مردم سالاری

خواهد داشت. از همه مهم تر اینکه اگر این دو دسته گی راه خود را در بین قوای مسلح کشور باز کند در آنصورت سلامت و تمامیت ارضی افغانستان نیز به خطر مواجه خواهد شد.

به این خاطر لازم است تا آقای محمد اشرف غنی و داکتر عبدالله عبدالله (شرکای سابق در حکومت وحدت ملی) به خاطر کامیابی پروسهء صلح و بخاطر منافع علیای افغانستان؛ با هم کنار بیایند و راه برون رفت از بحران رهبری کشور را بطور عاجل حل وفصل نمایند.

اگر سیاسیون و مردم افغانستان در این برههء حساسی از تاریخ کشور از هشیاری و احتیاط کار نگیرند به احتمال زیاد نه تنها وطن ما روی صلح و آرامش واقعی را نخواهد دید؛ بلکه آیندهء تاریک تری در انتظار کشور ما خواهد بود.

# یادداشت ضروری

مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی CSRS در نظر دارد تا بخاطر تمرکز بیشتر روی قضایای جاری کشور و بالا بردن کیفیت تحلیل ها؛ سر از ۱۵ حمل ۱۳۹۹ هـ ش / اول اپریل سال ۲۰۲۰ م تحلیل هفته وار خویش را در هر دو هفته یکبار به نشر برساند، خوانندگان محترم مطلع باشند.

**ارتباط با ما:**

**لطفا نظریات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه با ما شریک سازید.**

**ایمیل:** csrskabul@gmail.com - info@csrskabul.com

**ویبسایت:** www.csrskabul.com -- www.csrskabul.af

**شمارۀ تماس دفتر:** + 93 (0) 784089590

i https://tolonews.com/fa

ii Dailyweesa.com

iii https://csrskabul.com